ترتیب کونکی : الحاج داکترامین الدین سعیدی – سعید افغانی

۰۳ اپریل ۲۰۲۰

## تقدير او تدبير:

په تقدير باندې ايمان لرل د ايمان شپږم رکن دی، لدې پرته انسان مؤمن نه بلل کيږی، خو ولې دا ايمان د تدبير سره هيڅ تضاد نلری، مؤمن مکلف دی چې تل خپل انساني عقل په کار واچوي، لازم اسباب استعمال کړي، له هغه روسته په الله مکمل اعتماد وکړي، چې لدې روسته څه واقع شي نو نسبت به يې تقدير ته کوي، د کار د واقع کيدو وړاندې به په تقدير استدلال نه کوي.

مطرف بن عبدالله رحمة الله وايي : (هيچاته ندي روا چې د غره له سره ځان راوغورځوي، او بيا وايي چې دا راته په تقدير کې ليکل شوي وو، نه بلکې د حفاظت لازم اسباب به په کار اچوي، که بيا څه واقع شول نو نسبت به يې تقدير ته کوی).

سيرأعلام النبلاء ۱۹۱/٤

تدبير هم د تقدير برخه ده:

حضرت عمر رضي الله عنه د خپلو ملګرو سره شام ته په سفر روان وو، (سرغ) مقام ته چې ورسيدل، چا ورته وويل چې شام کې طاعون خپور شوی دی، نو سمدستي يې د صحابه کرامو رضي الله عنهم سره جلا جلا مشوري ترسره کړی، او نهايي تصميم يې ونيو چې بيرته وګرځي اوشام ته سفر ونکړی ، نو ابو عبيده عامر بن الجراح رضي الله عنه ورته وويل:

آيا ته د الله له تقدير څخه تيښته کوی؟ هغه ورته وويل: ته او داسې خبره! بيا يې وفرمايل: «هو مونږ د الله له تقدير څخه د الله تقدير ته تيښته کوو» بيا يې ورته وويل : که ته اوښان څريي او مخې ته دې يوه دره شنه او بله وچه وي، نو که ته پدې هره دره کې اوښان وڅروی نو دا به د الله په تقدير نه وي څه؟.

دا روايت په صحيح البخاري او صحيح مسلم کې نقل دی.

دو همه مسأله :

وايی يو ورځ حضرت عمر(رض) له يو غل لاس پريکولو نو غل ورته وويل ته ولې له ما لاس پريکوی؟ ما خو غلا د الله په تقدير کړی ده، هغه ورته وويل :(مونږ هم درڅخه لاس د الله په تقدير پريکوو). (منهاج السنه د شيخ الإسلام ابن تيميه رحمة الله:۲٤۳/۳)